AELSO

د افغانستان د اقتصادی او حقوقی مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# JUMP - JOINING UP TO MINIMIZE POVERTY

گام‌های مشترک برای مبارزه با فقر
له غربت سره د مبارزې لپاره ګډ ګامونه



مهدي مدرس
لوی او غوره فکر

## ENTREPRENEURS FOR PROSPERITY IN AFGHANISTAN

کارآفرینان برای رفاه در افغانستان | په افغانستان کې د هوساینې لپاره متشبثین

/AELSO1 /AELSO2 aelso_afghanistan www.AELSO.org

# مهدي مدرس

## لوی او غوره فکر

هغه نوی نسل چې په دې سختیو کې بریالی شوی او نن ورځ په کابل او د افغانستان په ولایتونو کې مشهور دی او خپل برانډ ښیي، مهدي مدرس ۲۸ کلن افغان ځوان دی چې د الیټ په نوم یې د ښکلا او ویښتانو جوړولو یو غوره سالون د کابل ښار په یو غوره موقیعت کې جوړ کړی دی. چې په دې ورځو کې د هر چا لپاره یو پیژندل شوی نوم او نښه ګرځیدلې ده. د مدرس لپاره د دې کار پیل کول اسانه نه ؤ او هغه په اسانۍ سره خپل منزل ته نه ده رسیدلی، بلکې د مهاجرت له سختو ورځو له تجربه کولو وروسته، هغه د بیرته راستنیدو په فکر کولو سره د خپلې سپما، تجربو او زده کړې څخه په ګټې اخیستنې سره د خپل هیواد په پرمختګ او ښیرازۍ کې خپل رول ولوبوي.



"مهدي مدرس "د الیټ د ښکلا سالون" د پیرودونکو د ویښتانو جوړولو په وخت کې"

افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه چې د هیواد دننه او بهر په ملیونونو کډوال او بیلابیل داستانونه لري چې لوستل او اوریدل یې موږ فکر کولو ته اړ کوي.

دا د هغو کډرونو د وجود له ژورو څخه د شک شیبه ده چې د دې هیواد په غیږ کې لوی شوي او د د ټولو ستونزو او سیاسي ،اقتصادي ،امنیتي او ټولنیزو ننګونو سره سره چې حتی د خپل هیواد پریښودو او پردیو هیوادونو ته د مهاجرت لامل شوي. خو بیا هم دوی دا جرئت درلود چې خپل ځانګړي نظریات ځرګند کړي او هیواد ته راستانه شي او خپلې تجربې له نورو سره شریکې کړي. چې نن ورځ یې د هیواد په وده او سوکالۍ کې خپل ځای او رول ځرګند کړی دی. د شخصیتونو او ځوانانو دا ډول داستانونه او کیسې باید د نمونې په شکل ځای ولري ترڅو د نن او سبا ځوان نسل په دې پوه شي چې د بریالیتوب کلیدي رول په دوامداره هڅو کې ده.




"مهدي مدرس د نارینه وو د عصري ښکلا د خدماتو د وړاندې کولو په وخت کې"

# مهدي مدرس

## لوی او غوره فکر



”مهدي مدرس د افغانستان د فوټبال د ملي لوبډلې له لوبغاړو سره“

مدرس په تیرو شلو کلونو کې یو له هغو ځوانانو څخه دی چې د نارینه وو د ښکلا او ویښتو جوړولو په برخه کې یې خپل برانډ په اوسنۍ بڼه په لاره اچولی،" ځوک نه ول چې ما وهڅوي او تشویق مې کړي، ما تل غوښتل چې په خپل ژوند کې نوښت رامنځته کړم او غوښتل مې چې د نورو خلکو کارونه په متفاوت ډول ترسره کړم تر څو نور هم زما پیروي وکړي او ما تعقیب مې کړي.

له ماشومتوب څخه مې هیله درلوده چې یوه ورځ زما نوم د ګوګل په نړیواله پاڼه کې ځای پر ځای شي او د لټون پروفایل په کلیک کولو سره ښکاره شي. اوس خپل ځان سره فکر کوم؛ شاید دا ټول زما لوړ ګامونه او لوی فکرونه ول چې نن ورځ دلته یم." د ځیرنو په نتیجه کې، د لوی فکر او دوامدارو هڅو درلودل د بریا د لاسته راوړلو لپاره کیلي ده. "که موږ وغواړو له نن څخه یو نوی پیل وکړو، زما په اند موږ باید تیر وخت له منځه یوسو او لوی فکر وکړو."ژوند همیشه زما لپاره یو لویه نظریه او فکر ده."

مهدي مدرس په ۲۰۱۸ لمریز کال کې د نارینه وو لپاره د ښکلا او ویښتو جوړولو سالون جوړ کړ او په غیر مستقیم ډول یې د اجرایوي رییس په توګه د مدیریت چارې په لاس کې لرلې. چې نن ورځ نوموړی ۳۵ کارمندان لري. "دا مې د بریا او خپلو اهدافو ترلاسه کولو هیله ده چې هره ورځ یې هڅولم چې نور د خوب له بستر څخه راووځم. زه تل خپل ځان هڅوم، خپل ځان د تیرې ورځې څخه غوره ارزوم، او هر سهار پنځه دقیقې د نړۍ د ترټولو د بریالیو شخصیتونو هڅونکو ویناوو اوریدلو ته وخت ورکوم."

نن ورځ کله چې لوی او بې باوره نظرونه په ګټوره سوداګرۍ او برانډونو بدل شوي، دا د هغه چا د لوړ فکر او لید څخه سرچینه اخیستې، چې پر خپل ځان باور او لوړ اعتماد لري." یو کوچنی د ویښتانو جوړولو سالون مې درلود مګر زما د خوبونو حد لوړ وه او د هغه د عملي کولو په هڅه کې وم. په دې لاره کې هغه کس چې ما ورته ورور ویلي؛ زه یې وهڅولم او زما ملاتړ یې وکړ چې خپله سوداګرۍ پیل کړم. داخلي ظرفیت ته په کتو، د افغانستان د بازار اړتیاو او د کار بازار ته په کتو، ما پریکړه وکړه چې یو غوره ځای د پیدا کړم، چې اوس پکې الیټ سالون موقعیت لري."




”مهدي مدرس د نارینه وو د عصري ښکلا د خدماتو د وړاندې کولو په وخت کې“

## مهدي مدرس

# لوی او غوره فکر




"مهدي مدرس "د الیټ د ښکلا سالون" د پیرودونکو د ویښتانو جوړولو په وخت کې"

په ننۍ نړۍ کې دا یوازینې درس او زده کړه نه ده چې موږ دې پر یو شي تکیه ولرو او بریالیتوب ته دې ورسیږو بلکې قوي هوډ او اراده بنسټیز عناصر دي چې د عملي ګامونو په اخیستلو سره، انسان هیلو ته رسوي.

ما د ماشومتوب کلونه په جلاوطنۍ کې تېر کړل او د ژوند د ستونزو له امله مې ونشو کړلی چې پوهنتون ته لاړ شوم. تر یوولسم ټولګي پورې ښوونځي ته لاړم او بیا مې د ویښتانو د جوړولو په برخه کې عملي کورسونه وخیړل، تر څو له دې لارې وکولی شم هېواد ته په ستنېدو سره به خپله مالي خپلواکي، کار او سوداګرۍ پیل کړم."

د الیټ د ښکلا او ویښتو جوړولو سالون د نارینه وو لپاره د ځانګړو خدماتو د وړاندې کولو په هدف جوړ شوی دی، چې په دې وروستیو کلونو کې د ښځو لپاره دې دا ډول سالونونو شتون ډیر مشهور شوی وه او له همدې امله مهدي مدرس د لومړي سالون په پرانیستلو سره چې د نارینه وو لپاره په ځانګړې ډول د ښکلا خدمتونه وړاندې کوي، د خپلو ځانګړو پیرودونکو پام یې ځانته اړولی او ډیر شهرت یې ترلاسه کړی دی. " د الیټ ښکلا او ویښتو جوړولو سالون له جوړولو او رامنځ کولو دمخه اول کار چې تر سره مې کړ د مارکیټ پلټنه وه، او په ښه حالت کې د داسې یو مرکز د جوړولو اړتیا په پوهیدو سره، خپلو هڅو ته مې دوام ورکړ او په سخت حالت کې مې د الیټ سالون د پیلولو لپاره حرکت وکړ. "البته، په لنډ وخت کې د خپل شهرت او محبوبیت ترلاسه کول زه حیران کړی یم او زما لپاره د ویاړ او خوښۍ وړ وګرځید."

نن ورځ مدرس چې خپل کار او سوداګرۍ یې په لاره اچولې د ډیرې درسونو او تجربو څخه بډایه ده چې هغه یې ځوان نسل ته د خپلو تجربو په اړه بیانوي؛ "خپلو عامه اړیکو ته پام وکړئ او هڅه وکړئ، کله چې تاسو سوداګرۍ یا تولید کوئ نو بیا یې په غوره خدمت او کیفیت سره پیل کړئ ، پدې دوه ځانګړتیاو سره به ستاسو د بریا او غوره کیدو په لاره کې هیڅ خنډ او ځنډ شتون ونلري." همدارنګه دی بیا هم وایي؛ "ما له دې لارې ډېر درسونه او تجربې ترلاسه کړې او د خپلې ټولنې او خلکو لپاره مې لا هم په دې برخه کې د کار او کار کولو یو ځانګړی میتود شتون لري، ځکه له هغو کسانو سره چې په دې برخه کې پانګونه او تجارت کوي، ناسم چلند او بې عدالتي کېږي. مګر "ما خپله ونډه په سمه توګه ادا کړه او زما موخه یوازې دا نه وه چې پیرودونکو ته خدمات وړاندې کړم، بلکې د اخلاقو، ایمانداری او کیفیت زده کړه مې د محور اصلي موخه وه."




"مهدي مدرس "د الیټ د ښکلا سالون" د پیرودونکو د ویښتانو جوړولو په وخت کې"

مهدي مدرس

# لوی او غوره فکر














## „ د الیټ د ښکلا په سالون کې "

د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره ما په تیوري او عملي ډول ډیر کورسونه تعقیب کړل او واقعیا هغه وخت راورسید چې دې پانګونې نه یوازې ما ته ګټه وکړه او زده کړه لرله بلکې د ټولنې او په ځانګړې توګه ځوانانو ته یې د کار زمینه برابره کړه او د بې شماره پیرودونکو د بام وړ وګرځید، "د نننې ځوانانو د فکر او چلند طریقه ماته نه ستړې کېدونکې انرژي راکوي او د یوه ښه سبا لپاره مثبت تعهد راکوي خو خراب امنیتي او اقتصادي وضعیت لیدل ستړی کوونکی او ناراحت کوونکی دی.
له دې ټولو ستونزو سره سره بیا هم زما په ذهن او وجدان کې د یوه سوله ییز سبا لپاره هیله او دعا شته.
هغه د خپلو اوږد مهاله هیلو په توګه د خپل سالون د ځانګو د پراخولو داسې یادونه کوي؛" دا دې مختلیف او لوړ کیفیت لرونکې سوداګرۍ لپاره زما د ګامونو څخه لومړی ګام ؤ، "بل ګام به په مزارشریف، هرات او د هیواد په ټولو برخو کې د الیټ د ښکلا سالونونو او ویښتو جوړولو ځانګو پرانستل وي، او هیله لرم چې د الیټ برانډ به د هیواد په ټولو برخو کې یو مشهور نوم د خلکو پر ژبه وي."